# په ورمونټ کې عامه کتابتونونه

## عامه کتابتون څه شی دی؟

عامه کتابتونونه د زده کړې، د ساتیرې او ځان سره د مرستې لپاره ټاکل شوي ځایونه دي او د هر عمر او د ټولو خلکو لپاره چې هر ډول مخینه ولري داسې فرصتونه وړاندې کوي چې زده کړې وکړي او د ځاني پرمختګ لارې چارې تعقیب کړي. کتابتونونه معمولا هغه مواد وړاندې کوي چې مراجعین یې کتلای شي او همدارنګه له ودانۍ او اسانتیاوو څخه هم استفاده کولای شي. د کتابتون کارمندان معمولاً د دې لپاره وي ترڅو پوښتنو ته ځواب ووایي او له کتابتون څخه د استفادې په چارو کې له مراجعینو سره مرسته وکړي.

## عامه کتابتونونه څه شی وړاندیز کوي؟

مراجعین او ګټه اخیستونکي کولای شي په کتابتون کې د یو څه مودې لپاره له ډیرو موادو څخه استفاده وکړي او پرته له کوم لګښت څخه یې بېرته کتابتون ته وسپاري. په دې موادو کې کېدای شي لاندې توکي شامل وي:

- د لویانو او ماشومانو کتابونه
- اخبار
- وسایل
- غږیز کتابونه او موسیقي
- مجلې
- فلمونه

په ډیرو کتابتونونو کې مراجعینو ته په وړیا ډول ځینې ننداری وړاندې کیږي. په دې ډول کتابتونونو کې بېلابېلې ننداری وړاندې کیږي:

- د لویانو او ماشومانو لپاره تعلیمي ننداری
- هنري ننداری
- د کیسې وختونه او د ماشومانو نور فعالیتونه
- د موسیقي ننداری

په ډیرو کتابتونونو کې مراجعینو ته د ټکنالوژۍ خدمات هم وړاندې کیږي. په دې ټکنالوژۍ کې کېدای شي بېلابېل ډولونه شامل وي:

- کمپیوټرونه او انټرنټ ته لاسرسی
- وړیا وای فای
- بریښنایي کتابونه
- پرینټرونه او سکینرونه
- آنلاین سرچینې او ټولګې

کتابتونونه معمولا د مراجعینو لپاره لومړنۍ اسانتیاوې لري:

- څوکۍ
- تشنابونه او د څښاک اوبه
- د کار او کورنۍ دندې د ترسره کولو لپاره میزونه
- د ناستې خونه یا د مطالعې لپاره ارام ځایونه

## څنګه کولای شئ د کتابتون غړی شئ؟

که تاسو په داسې ښار کې ژوند کوئ چې هلته کتابتون وي، نو د کتابتون غړیتوب وړیا دی. ډیری کتابتونونه به ستاسو نوم، پته، او د تلیفون شمیره یا بریښنالیک پته وغواړي. په ځینو کتابتونونو کې ستاسو د ID غوښتنه هم کیږي. له قانوني اړتیا پرته، کتابتون ستاسو شخصي معلومات له هیچا سره نه شریکوي. په ډیرو مواردو کې، تاسو اړتیا نه لرئ چې د کتابتون د لیدلو لپاره د کتابتون غړیتوب ولرئ.

INSTITUTE of Museum and Library SERVICES

VERMONT DEPARTMENT OF LIBRARIES

### د پوښتنو ځوابونه ترلاسه کړئ

کتابداران هر هغې پوښتنې ته د ځواب ویلو دپاره شتون لري کوم چې کېدی شي د کتابتون کاروونکي د هر څه په اړه ولري. که څه هم کتابداران نه شي کولی ستاسو پوښتنو ته سمدلاسه ځواب ووايي، دوی به څېړنه کوي او کله چې ځواب ومومي ستاسو سره به اړیکه نیسي.

### آنلاین مالومات ترلاسه کړئ (ډیټابیسونه)

د کتابونو سربېره، کتابتونونه د ډیټابیسو له لارې مالوماتو ته آنلاین لاسرسی وړاندې کوي. د دغه ډیټابیسو کارول وړیا دي او د مقالو، الیکټرونیکي کتابونو، ویډیوګانو، او انځورونو څخه ډک وي ترڅو ستاسو د اړتیاو سره سم مالوماتو په لټ کې ستاسو مرسته وکړي. دوي د ښوونیزې څېړنې څخه نیولې ستاسو د کورنۍ پروژو او شوقونو دپاره د مقالو او لارښووني پورې د هر څه په اړه مالومات لري او د آنلاین مالومات موندلو دپاره په زړه پورې ځای دی.

### کتابونه ترلاسه کړئ

کتابداران کولی شي ستاسو سره د کتاب په موندلو کې مرسته وکړي که چیرې تاسو ته سرلیک او لیکوال مالوم وي. همدارنګه دوی کولی شي ستاسو د لېوالتیاو او مالوماتي اړتیاو پر اساس ستاسو د راتلونکي کتاب په اړه سپارښتنې وکړي.

کېدی شي ستاسو د لیدنې په وخت ستاسو کتابتون هر هغه کتاب ونلري چې تاسو يې لوستل غواړئ. له نېکه مرغه، کتابداران کولی شي ستاسو په ایالت کې او بهر د نورو کتابتونونو څخه ستاسو سره د کتاب په پورولو کې مرسته وکړي. کتابداران کولی شي د کتابتونونو ترمنځه پور [Interlibrary Loan] کارولو سره د نورو کتابتونونو څخه د کتاب په پورولو کې ستاسو سره مرسته وکړي. کله چې ستاسو غوښتل شوی کتاب راورسي، تاسو کولی شئ وې ګورئ او خپل ځایي کتابتون ته يې نېغ په نېغه بیرته ورکړئ.